مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ۲۰۲۵/۱۲/۲۸

# قوي عزم

شورلرم، جنون لرم، سوراورپه زړه کي بل لرم
شوق لرم، سرورلرم، لمبې راسره مل لرم
مینه یم، هوس یمه او ښنګه به لا نه یمه؟
تل چي مي ځيګرباندي راخپورد یاراوربل لرم
نوی نه یم، خام نه یم چي وخت به مي بدل کړای شي
زه دالیونتوب له لومړی ورځي د ازل لرم
مستي توپاني څپي به زړه کي په څپو وي تل
ځوچي د یارزلفي توپاني او ول په ول لرم
خوشي او آسانه مي داحال ترلاسه نه کړلو
غوندِ ځان مي لمبه کړ ځکه لمرغوندي روڼ ځَل لرم
چیغي به مي ښنګه بې اثره کړي د وخت تیارې؟
زه چي هره چیغه راپیدا د زړه له تل لرم
لاره که ده ګرانه، د «بري» مخ کي خنډونه ډېر
زه هم قوي عزم، کلک ایمان او توکل لرم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ